وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَاهُوَ شِفَآءٌ (بنی اسرائیل آیت ۸۲)

ترجمه: مونږ رالیګو په قرآن کښې چه د هغې سره بیمارۍ لرې شي

قرآنی علاج

یعنی

قرآن او حدیث نه د بیمارو علاج

د وظیفو او د عملیات نادره مجموعه چه په کښې قرآن او صحیح احادیثو نه د ټولو مرضونو علاج بیان کړې دي د هر یو مسلمان د کور ضرورت



صحیح ایډیشن

نظر ثانی شده

تالیف

الشیخ سعید بن علی بن وهف القحطانی

پښتو مترجم

محمد سید شاه احمد ګیلانی

وحیدی کتب خانه قصه خوانی بازار پشاور فون 2564991



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com


وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ (بنی اسرائیل آیت)

ترجمہ: او موږ نازل کړې دی په دې قرآنکریم کښې هغه څه
چه مرضونه دفع کوی

قرآنی علاج

یعنی
د قرآن او حدیث نه د بیماریو علاج

د وظائفو او عملیاتو نادره مجموعه کومه چه د قرآنکریم
او صحیح احادیثو نه د ټولو مرضونو علاج بیان کړے دے
د هر یو مسلمانانو کورونو اهم ضرورت



نظر ثانی شوے

صحیح ایډیشن

کامل دوه حصے

تألیف
الشیخ سعید بن علی بن وهف القحطانی

پښتو ترجمه:

ترجمه او نوی اضافات
نصیب الرحمن علوی
فاضل جامعه علوم اسلامیه
کراچی

فهرست مضامین

تمت بالخیر

تړون (په نامه ٔ سره)

هغه ساده، د پردے ډکه او د قربانۍ ډکے مور په نوم دے،
الله تعالیٰ دے مور لره درے په پښتو معذوره بچي ورکړل او بیا
ئے ترے واخستل، هغه خو د ژوند او مرګ خاوند دے چه
څه ٔ غواړے هغه کوی، بیا دے مور نذر اومنلو چه که خدائے
دوئے ٔ له صحتمند بچے ورکړو، نو هغه به ده ٔ بانده د الله د دین
علم حاصلوی، الله تعالیٰ دوئے لره تندرست بچے ورکړو، د دے
شپے رنړا شوے، او ورځے ئے د خوشحالو شوے، زړه ٔ ئے د خوشحالو
نه ډک شو، البته الله تعالیٰ سره کړے وعده دے ته یاده وه،
او کله چه هغه ماشوم غټ شو، نو د خپل ځان نه ئے جدا کړو، او د
علم دین په حاصلولو کښے ئے ولګولو، ماشوم څو ځله د شپے په
تیاره ٔ کښے خپله مور خالق حقیقي ته لاسونه اوچت کړی، په
ژړا او په زارۍ او دعاګانو کولو بانده ولیدله، بیا د مور دعاګانو
رنګ راوړو او دا ماشوم د علم د جوړ سمندر نه دیو څو
قطرو په حاصلولو کښے کامیاب شو، نن د هغے ماشوم په لاس کښے
قلم دے او هغه په سل عجز او نیاز د رب ذوالجلال په
دربار کښے عرض ګذار دے .

اَللّٰهُمَّ ارزقها حیاة طویلة واجعل ظلها علیٰ رؤسنا دائماً وارحمهما
كما ربّيٰني صغيراً

(عبد الرحمٰن علوی)

عرض د مرتب او مترجم

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله الذی هو یطعمنی ویسقین واذا مرضت فهو یشفین والذی یمیتنی ثم یحیین والصلوٰة والسلام علی خیر خلقه محمد و علی اله واهل بیته و اصحابه اجمعین ط

اما بعد! هرانسان له پوهیدل پکار دی چه الله تعالیٰ انسان صرف دخپل عبادت او بندګۍ د پاره پیدا کړے دے لکه څنګه چه د الله تعالیٰ ارشاد دے:

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ○

ترجمه :۔ او نه دے دی پیدا کړی دغه پیریان او انسانان، مګر پیدا کړی ے دی د پاره دبنده ګۍ او عبادت خپل.

او د الله تعالیٰ کامله بندګی او عبادت تر هغه وخته پورے نشی کیدلے، ترکوم وخته پورے چه صحت ښیک نهٔ وی، او د

صحت حاصلول په دے ولاړ دی چه انسان د خپل جسمانی صحت مکمل خیال اوساتی.

په عام طور باندے د دے د پاره څلور طریقے دی:
(۱) دعاء، (۲) دوا (علاج)، (۳) عمل یا وظیفه، (۴) پرهیز.

مګر د جسمانی مرضونو بعضے علاج کوونکی د مرض ختمیدو د پاره صرف دعاء او د الله تعالیٰ پاک کلام کافی نه ګڼړی، بلکه داسے کس ته بے عقل او لیونے وائی، مګر دا د هغه خپله بے عقلی او لیونتوب دے، ځکه چه د الله پاک په کلام کښے د غرونو د خوزولو طاقت شته. لکه څنګه چه د الله تعالیٰ ارشاد دے:

لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ خٰشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ط

ترجمه:- او که مونږ دغه قرآنکریم په یو غر باندے نازل کړے وے نو تاسو به لیدلے وُو دغه غر چه هغه به د الله تعالیٰ د ویرے نه ښکته رغړیدلے وُو.

او د حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد دے: ترجمه:- که یو د یقین

والا کس په غربانده هم قرآن ولولی، نو هغه به د خپل ځائے نه لرے شی. (مجمع الزوائد جلد ۵ صفحه ۱۱۵)

هرکله چه د قرآنکریم د لوستلو د وجے نه غر د خپل ځائے نه اخوا کیدلے شی، نو د غر په مقابله کښے د جسمانی مرضونو څه حیثیت دے چه هغه به نه اخوا کیږی.

اوچنانچه هرکله الله تعالیٰ دا قرآن د مخلوق د پاره شفاء نازل کړے دے، نو دے کښے د شک څه گنجائش پاتے کیدے شی. الله تعالیٰ فرمائی:

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ ط

ترجمه: او موږ نازل کړی دے په دے قرآن کښے هغه څه چه په هغے کښے شفاء ده او رحمت دے د پاره د مؤمنانو بل ځائے فرمائی:

قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ آمَنُوا هُدًى وَشِفَاءٌ ج

ترجمه:- ته اووایه اے پیغمبره دے ایمان والاؤ ته چه دا قرآنکریم هدایت دے او په دے کښے شفاء ده د هر مرض د پاره.

د دے وجے نه حضرت علی رض فرمائی: فِي الْقُرْآنِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ. (په قرآن کښے د هر مرض شفاء ده، او هم د دے وجے نه د پخوانی زمانے خلقو به خپل علاج اول په قرآن او بیا په مسنونو دعاگانو سره کولو، او د سخت ضرورت

په وجه باندے به ئے ظاهری دوائی استعمالوله، دد دپاره چه دوا او علاج بالذات د شفاء ورکولو والا اونه گنړی .

ذالك ما كنت منه تحيد (دا هغه مرگ دے چه ته به ترے تښتيدلے) يعنی چه لږ به هم بيمار شوے نو نوعلاج له به د ے منډ ے وهلے او په خپل مالك او پاك ذات باندے د ے بهروسه نه وه ، زما مطلب هيڅکله هم دا نه د ے چه دوائی کول د ے پريښودل شی ، بلکه د دوائی استعمال هم سنت او ضرورت د ے ، بلکه مطلب مے دا د ے ، چه په دوائی د ے ايمان نه وی ، څنگه چه نن صباء ئے دا بعض خلق کوی چه صرف ظاهری دوائيانو ته رجوع کوی ، يعنی په حکيمانو او ډاکټرانو چکر وهی ، او په روحانی او نورو الفاظو سره په قرآنی علاج باندے ئے هيڅ اعتقاد او اعتماد نه وی ، او کوم چه لږ ډير دينداره د ے ، هغوئے ته هم دا شکايت د ے چه زمونږ دعاء نه قبليږی ، چا ته شکايت د ے چه ما څو ورځے اعمال اوکړل خو هيڅ اثر ښکاره نه شو ، په د ے وجه په عمليانو کښے هيڅ اثر نشته ، دا ټوله دهوکه ده ، د د ے حضراتو په خدمت کښے درخواست د ے چه روزانه په هسپتالونو کښے په زرگونو خلق د مختلفو بيمارو په وجه مری خو بيا هم څوك دا نه وائی ، چه په دوائی کښے څه اثر نشته ، حکيمان او ډاکټران دهوکه بازدی ، دا ډاکټری دهوکه ده ، بلکه دا د تقدير ليك گنړی ، بيا دوباره د هغه حکيم او ډاکټر نه

علاج کوی، نو څو ورځے دعا یا عمل لوستلو نه پس اثر نه کیدو باندے دا فیصله کول چه د خدائے کلام او عملیاتو کښے هیڅ تأثیر نشته، دا فیصله کول کوم انصاف دے.

دعمل د اثر شرطونه :-

یاد ساتئ چه د خدائے تعالیٰ په کلام کښے ټول جسمانی او روحانی مرضونو شفاء ده، او د دے نه علاوه د خدائے تعالیٰ کلام، د هر تکلیف مصیبت او غم لرے کولو وسیله ده، خو د دے نه شفاء او فائده اخستلو د پاره رښتیا ویل، حلال رزق او لویو ګناهونو نه پرهیز لازمی دے، او د دے سره سره په زړهٔ پوره یقین ساتل ضروری دی، بیا هم که چرے وقتی طور په څه عمل کښے ناکامی اوشی، نو په وجه د یرے هغه عمل مه پریږدی، کیدے شی چه ستاسو د ایمان او یقین ازمیښت کیږی، که مضبوط پاتے شوے نو انشاء الله ضرور به کامیابی حاصلیږی.

د خبرے خلاصه داده : چه د الله تعالیٰ د کلام او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل شوے دعاګانو کښے د هرے بیماری علاج دے څه رنګ چه علماء کرام د رسول الله صلی الله علیه وسلم نائبان او وارثان دی، په دے وجه د هغوئ نه نقل شوے دعاګانے او عملونه هم د فائدے نه خالی نه دی، په دے وجه هر مسلمان له پکار دی چه د قرآنی اعمال او مسنون دعاګانو په وجه خپل هر مشکل حل کړی.

تیرو شوو ورځو کښے شیخ سعید بن علی بن وهب القحطانی مد ظله العالی چه د سعودی عرب د غټو علماء ځنے دے، د هغهٔ د نظر

نه یوه رساله « العلاج بالرّاقیٰ من الکتاب والسنة » تیره شوه ،
د مطالعه کولو په وخت مے د بیان طرز او طریقه ډیر خوښ شو ،
موضوع هم ډیره اهمه او فائده منده وه - په دے وجه په
الله تعالیٰ باندے مے باور اوکړو او د خلقو د پاره مے د رسالے ترجمه
ولیکله ، او اراده مے داوه چه صرف دا شائع کړی ، خو د بعضے خلقو
په بار بار وینا باندے مے په دے باندے څه نورې اضافه هم اوشی ،
خو دا راته مناسبه بنکاره نهٔ شوه ، ځکه بیلے مے څه صفحے د
زیاتولو اراده اوکړه - ځکه چه زما علمی طاقت دومره نهٔ دے
چه په دے نازکه موضوع باندے څه اولیکم ، په دے وجه
د غټو علماؤ او ولیانو د کتابونو نه د مختلفو مرضونو څهٔ
عملونه (او تجربه شوی) مے خوښ کړل ، او د اصل کتاب په حواله
باندے مے نقل کړل چه ډیر یو کتابچے شکل ئے اختیار کړو ، او د دے
نوم مے " علاج قرآنی " کیښودلو ، اوس دا دواړه رسالے په یو
کتابی شکل باندے ستاسو په خدمت کښے پیش کوم .

د دے کتاب بعضے خصوصیات

په عملیاتو خوبے شماره کتابونه دی ، خو د الله تعالیٰ په
فضل او کرم باندے دا د خپل طرز یو واحد کتاب دے ، چه پکښے
د ټولو مرضونو علاج په تفصیل سره ذکر شوے دے ، د کتاب
څهٔ خصوصیات دا دی :

(۱) - د سریزے نه پس د هرے بیمارۍ چه هغه نامعلومه وی

د هغې مختصر تعارف، چه علاج ئې صحیح طریقې سره اوشی .

(۲):- د بیمارۍ د علاج سره سره د هغې سببونه هم بیان شوی دی.

(۳):- د مخکینې یاد لرلو د پاره هغه اصول او وجې هم بیان شوی دی. چه هغه کولو سره د بیمارۍ نه بچ کیدے شی.

(۴) د جادو او بد نظر نه د بچ کیدلو د پاره داسې اصول او قاعدے بیان شوی دی چه د هغې بل ځائے کښې یو ځائے ملاویدل گران دی .

(۵):- روحانی علاج سره سره موقع په موقع آسان او د اثر نه ډکو دعاگانو بیان هم شوے دے

(٦):- هر عمل سره د اصل کتاب حواله د صفحې سره لیکلې شوے ده، اصل مأخذ (چه د کوم کتاب نه اخستې شوے ده) طرف ته په رجوع کولو کښې آسانی ده) .

(۷) زیاتر بلکه ۹۵٪ فیصد ه عملونه د قرآنکریم او احادیثو نه ذکر شوی دی .

(۸):- ټول عملونه داسې آسان چه پکښې هیڅ پابندی نشته .

(۹):- د ټولو مرضونو علاج د مختلف عنوانا نو لاندے بیان شوے دے چه په پیدا کولو کښې ئې څهٔ تکلیف نهٔ وی .

د مثال په طور د سر د ټولو مرضونو علاج د سر د مرض په علاج کښې بیان شوے دے، د غه رنګ د سینې د مرضونو بیان د سینې د مرضونو په علاج کښې بیان شوے دے .

(۱۰):- کوشش شوے دے چه یو د ذکر قابل مرض دا سې پاتے نهٔ شی

چه د هغې علاج ذکر نکړے شي.

(۱۱):- څه عملونه په یو عنوان باندے ذکر شوی دی، د دے وجې نه چه کوم آسان وی هغه اختیار کړے شي.

مثلا: د لونشیا علاج په شپږ مختلفو عملونو سره بیان شوے دے.

د الله تعالیٰ نه دا دعا ده چه هغه دا کوشش قبول او فرمائی او په خپله بارګاه کښے خاص د خپلے رضا د پاره او کرځوی او زما او د نشر کوونکو او شائع کوونکو د ټولو د پاره د آخرت توښه اوګرځی.

وما ذالك على الله بعزيز

(د دعاء محتاج)

د دے کتاب د دویمے حصے ترتیب د لاندے کتابونو نه اخستے شوے دے، کتاب کښے د اختصار د پاره د اخذ کوونکی پوره نوم نه دے ذکر شوے، خو د اشارے په طور علامت او د صفحے نمبر ذکر کړے شوے دے، دلته د اخذ کوونکی، د کتابونو پوره نوم او په کتاب کښے ذکر شوی علامات لیکلے کیږی. په دے وجه چه د اصل کتاب طرف ته په رجوع کولو کښے آسانی وی.

دکتاب نوم	د مصنف نوم	د مطبعے نوم	په دے کتاب کښے موجود علامت
عملیات کشمیری	مولانا انور شاہ کشمیریؒ	ایچ ایم سعید کمپنی کراچی	ک
اعمال قرآنی	مولانا اشرف علی تھانویؒ	دار الاشاعت کراچی	ق
مجربات دیربی	مولانا خواجہ احمد دیربیؒ	ایچ ایم سعید کمپنی کراچی	د
کمالات عزیزی	مولانا شاہ عبد العزیزؒ	دار الاشاعت کراچی	ع
مجربات امام سیوطی	امام جلال الدین سیوطیؒ	کتابخانہ شان اسلام لاھور	س
بیاض یعقوبی	مولانا محمد یعقوب نانوتویؒ	دار الاشاعت کراچی	ی
مجرب عملیات و تعویذات	صاحبزادہ مولوی محمد فضل	قریش بک ایجنسی سمن آباد	م
طب روحانی	مولانا محمد ابراهیم دهلویؒ	کتابخانہ شان اسلام لاھور	ط
آئینہ عملیات	محمد عزیز الرحمن پانی پتیؒ	دار الاشاعت کراچی	آ
طب نبوی	حافظ اکرام الدین	مکتبہ رحمانیہ لاھور	ن
روحانی علاج	حافظ محمد اکبر رسول آبادی	اکبر اینڈ سنز کراچی ۲	ر
فلاح دارین	صوفی احمد دین چستی	کتابخانہ شان اسلام لاھور	ف

د کتاب نوم	د مصنف نوم	د مطبع نوم	په دے کتاب کښے موجود علامت
اصلی بیاض محمد	شیخ محمد محدث تهانوی	دار الاشاعت کراچی	اصلی
زما والد ماجد اود هغے مجربات عملیات	مفتی محمد شفیع صاحب	دار الاشاعت کراچی	و
بیاض اولیاءً	شبیر حسین چشتی نظامی	مکتبہ منتبہ لاهور	ب
حیاة الحیوان	کمال الدین دمیری	اداره اسلامیات لاهور	ح

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

انّ الحمد لِلّٰهِ نحمده ونستعينه وَنستغفره ونعوذ بالله من شرور انفسنا وَمن سيأت اعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادی له واشهد ان لا اِلٰه الا الله وحده لا شريك له واشهد أن محمد عبده و رسوله صلى الله عليه وعلىٰ اله و اصحابه ومن تبعهم باِحسان الى يوم الدين وسلم تسليمًا كثيرا

امابعد ! په دے کښے څه شك شبه نشته چه د قرآنکریم او رسول الله صلى الله عليه واله وسلم نه ثابت دم دُرخه سره فائده وركونكے علاج اوكامله شفا ده. د الله تعالىٰ ارشاد دے : قُلۡ هُوَ لِلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا هُدًى وَّ شِفَآءٌ

ترجمه : اے پیغمبره! ته ووایه هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے وی چه دا قرآن هدایت او شفاء ده .

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّ رَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ

ترجمه : او مونږ نازلوو د قرآن نه په کوم چه شفا کیدے شی او رحمت د ایماندارو د پاره .

په دے ایت کښے د حرف (مِنْ)، د پاره د جنسیت دے یعنی قرآن ټول شفاء ده . څرنګه چه په دے بل ایت کښے ارشاد دے :

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝

ترجمه :- اے خلقو! په تحقیق سره راغلے دے تاسو د پاره نصیحت د جانب رب د ستاسو او شفاء ده د پاره د هغه څه چه په سینو ستاسو کښے دی او هدایت او رحمت دے د پاره د مسلمانانو .

نو قرآنکریم د زړهٔ او بدنی هرے بیمارۍ، دنیوی او اخروی بیمارۍ د پاره مکمله شفاء ده، خو هر یو له د قرآنکریم نه د شفا ورکولو توفیق نهٔ شی ورکولے . بیمار سړے چه کله په رښتیا او پوره زړهٔ او پوره یقین سره، او د دے د شرطونو پوره کولو سره د بیمارۍ پوره علاج کوی، نو د دهٔ بیمارۍ به هیڅکله د دے مقابله ونکړے شی، او څنګه به ئے اوکړی ؟ چه د مزکے او آسمان د مالك هغه کلام دے، که چرے ئے دا په غرونو نازل کړے وے، نو هغه به تس نس شوی وو، او که په مزکه ئے نازل کړے وے، نو هغه به ئے ټسلولے وه .

د زړهٔ بیمارۍ دوه قسمه دی :

(۱) د شک او شبهې بیمارۍ، (۲) د شهوت او نافرمانۍ بیمارۍ.

الله تعالیٰ د زړهٔ دا بیمارۍ او د دې اسباب (وجې) او د دې د علاج په بنهٔ تفصیل سره ذکر کړې دے. د الله تعالیٰ ارشاد دے :

اَوَلَمْ یَکْفِهِمْ اَنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَیْکَ الْکِتٰبَ یُتْلٰی عَلَیْهِمْ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ لَرَحْمَةً وَّ ذِکْرٰی لِقَوْمٍ یُّؤْمِنُوْنَ ۝

ترجمه : ایا دوی ته دا کافی نهٔ ده چه ما په تا باندې نازل کړې کتاب چه هغوئ ته لوستل کیږی، بیشکه په دې کښې رحمت او پوهه ده د هغه خلقو لپاره چه منونکی او مؤمنان دی.

د دې وجې نه زاد المعاد کښې علامه ابن قیمؒ فرمائی : چا ته چه قرآن شفاء ورنکړی، نو دهٔ له الله شفاء ورنکړله او چا له چه قرآن کافی نشو، دهٔ لپاره اللهؒ کافی نهٔ شو.

د بدن د مرضونو ټول طبی اصول او پوره قواعد قرآنکریم ښکاره کړی دی. د غه رنګ د حکمت ټول قواعد هم په قرآن مجید کښې موجود دی چه هغه درې دی :

(۱) د بدن (صحت) حفاظت. (۲) د نقصان ورکولو والاخیزونو نه لرې والے، (۳) نقصان ورکوونکی ټول خیزونه پریښودل، که یو سړے د قرآن علاج پوره اختیار کړی، نو زړهٔ به ورته شفاء حاصله شی او دے به ئے اثر اووینی. علامه ابن قیم فرمائی : یوځل زهٔ په مکه مکرمه کښې بیمار شوم

نهٔ چیرته حکیم وُ اونهٔ چرته دوائی وه، نوما خپل علاج په سورۃ فاتحه سره اوکړو او ما دده عجیبه اثر ولید لو۔ هغه دا چه ما به د زمزم لرے شان اوبه واخستے او په دے باندے به مے یو څو ځله سورۃ فاتحه دم کړله، او بیا به مے هغه اوبه اوڅکلے دغه رنګ کولو سره ماته پوره شفا ملاؤ شوه، بیا ما اکثرو بیمارو کښے په دے باور اوکړو او ددے نه مے ډیره زیاته فائده بیاموندله ۔ اوچه ماته به چا د څهٔ تکلیف شکایت کولو، نوما به هغهٔ ته هم دا وئیل، او هغوئ به د دے سره ډیر زر ټهیک کیدل ۔

دغه رنګ د احادیثو نه ثابت دم درخه نه علاج فائده مند دوائی ده ، او دعاء د تکلیف لرے کولو، د مقصد حاصلولو د پاره انتهائی فائده مند اسباب (وجهے) دی، خو په شرط ددے چه غوښتنه د شرعي موانعو نه پاکه وی او ډیره فائده منده دوا هم ده۔ خاص طور دے سره چه زاری منت هم وی نو دا د مصیبت دشمن هم دے ۔نو دا مصیبت لرے کوی او د هغے علاج کوی، د هغے راتلل لرے کوی، یا د راتلونه پس هغه آسانه کوی، (سنن ترمذی وغیره کښے دی :) چه دعا فائده ورکوی په هغو مصیبتونو کښے چه هغه نهٔ دی راغلی. اے د الله ج بنده ګانو ! دعاء ضرور غواړئ (همدا رنګے په حاکم، ترمذی وغیره کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دے : چه تقدیر نهٔ بدلیږی مګر په دعاء سره، او عمر کښے زیاتوالے نه کیږی مګر په نیکئ سره، خو دلته په یوه خبره پوهیدل

پکار دی : او هغه داچه آیتونه، اذکار او تعویذونه « هغه کلمات چه د هغې په ذریعه سره پناه غوښتلے شی) چه په هغې سره شفا اخستلے شی او دَم دوړخه کولے شی په خپل ځان کښے فائده منډ اوشفاء ورکولو والا وی، خو که داقبولیت او دم دوړخه والا په پوره یقین او د هغهٔ په اثر باندے ده ، که شفا ملاؤ نهٔ شی، نو دا د دم کولو والا د اثر د کمزورئ په وجه یا د دم کولو والا په یقین کښے دکمی یا دبل څه داسے وجے نه به وی، چه هغه به دوا کښے د شاملید لوته هغه منع کوی۔ دغه رنګ په دم دوړخه باندے علاج کولو سره ددوه خبرو خیال ساتل پکار دی، یو په مریض او دویم په علاج کوونکی کښے :

ړومبی خبره :- کوم چه په مریض کښے وی، هغه د دهٔ د نفسی قوت ، دالله طرفته پوره توجه، او دد ے خبرے پوره یقین چه بیشکه قرآن د مؤمنانو د پاره شفاءاو رحمت دے، اودم دوړخه دے هم د تعویذ سره وی، چه هغه شرعی ټیک وی او زړهٔ او ژبه په دے باندے مطمئن وی، ځکه چه دا د جنګ یو قسم دے او جنګ کوونکے دخپل دشمن نه په دوؤ څیزونو سره بدل اخلی : (۱) چه د دهٔ اسلحه سمه او مضبوطه وی، (۲) په متو کښے ئے طاقت هم وی ۔

که په دے دوؤ څیزونو کښے یو هم کمزورے وی، نو ډیره زیاته بنه اسلحه هم په کار نهٔ راځی، چه کله دواړه څیزونه نهٔ وی، نو بدل به څهٔ واخلی؟ دغه رنګ چه زړهٔ د توحید، توکل، تقوی او توجه الی الله نه خالی وی، نومریض سره به د خپل ځان بچ کولو د

د پاره څه استعمالوی؟ او دغه رنګ مریض به خپل ځان څنګه بچ کوی؟

دویمه خبره: علاج بالقرآن والسنت کولو والا معالج کښې هم دا دوه خبرے کیدل ضروری دی.

د دے وجے نه امام ابن تیمیه رحمة الله علیه فرمائی چه:
معوذات او د دے نه علاوه د الله تعالیٰ په نورو نوموسره دم دورخه کول په شرط د دے چه د نیکو خلقو په ژبه باندے وی روحانی علاج دے، او د الله تعالیٰ په حکم سره په دے سره شفا ملاویږی، په دے خبره باندے د علماؤ اتفاق دے چه د دے درے څیزونو په موجودګی کښې دم دورخه جائزده:

(۱): دم د الله تعالیٰ د کلام د پاکو نومونو یا د صفاتو یا د دعا د رسول صلی الله علیه وسلم د کلام نه وی.

(۲): دا دم په عربی یا په داسے ژبه کښې وی چه د هغے معنیٰ معلومه وی.

(۳):- په دے یقین سره چه دم دورخه پخپله څه اثر نه لری بلکه د الله تعالیٰ په حکم سره مؤثر دے او داچه په اسبابو کښې یو سبب دے.

د دے اهمیت په بناء باندے ما په خپل کتاب الذکر والدعا والعلاج بالرقیٰ د الکتاب والسنه نه بعضے دمونه راواخستل او دے سره مے څه نور هم زیات فوائد راجمع کړی او په دے رساله کښې مے ولیکل. د الله تعالیٰ نه د هغه د نومونو او د هغه د لویو

صفاتو په وسیله دعاء ده، دا کوشش دے د خپلے رضا سبب وګرځوی، او په دے د دے مالره، لوستلو والا لره، چهاپ کولو والا لره، نشر کوونکی او په هره طریقه چه ئے په دے کښے حصه اخستے وی ټولو ته فائده ورکړی.

انه سبحانه ولی ذلك والقادر علیه وصلی الله وبارك علی نبینا محمد و علی آله و اصحابه ومن تبعهم باحسان الی یوم الدین ط

فقیر الی الله

(الشیخ) سعید بن علی بن وهف القحطانی

۱۸/۶/۱۴۱۴ھ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د جادو علاج

د جادو ربانی علاج دوه قسمه دے :

رومبے قسم :- چه په هغے سره انسان د جادو نه محفوظ پاتے شی هغه دا دے :

۱:- ټول فرائض او واجبات اداء کول او ټول حرام پریښودل او د ټولو ګناهونو نه توبه ویستل دی .

(۲):- د قرآن مجید د تلاوت زیاتوالے کول، په داسے طریقه سره چه هغه د ده د روزانه په معمول کښے راشی .

(۳):- په دعاګانو، په پناه غوښتلو (تعوذاتو) او د شریعت د اذکارو سره د خپل ځان حفاظت کول. مثلاً: لاندینی درج شوے دعاګانے په لیکلے شوی ترتیب سره لوستل .

بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَا یَضُرُّ مَعَ اِسْمِهٖ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَ لَا فِی السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ؕ

ترجمه :- د هغه خدائے په نامه سره چه د هغهٔ په نوم سره یوځیز هم نقصان نهٔ ورکوی نهٔ په مزکه کښے او نهٔ په آسمان کښے، او هغه اوریدونکے او پوهیدونکے دے .

درے ځله سحر او درے ځله ماښام لوستل. او د هر ماخځه

نه پس، د ارده کیدلو په وخت اوسحر او ماښام آیة الکرسی لوستل، د سورة اخلاص او معوذتین سحر او ماښام او د ملاسته په وخت درې، درې ځله لوستل، او لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ط روزانه سل ځله لوستل، د سحر او ماښام او د مونځ نه پس اذکار، د ملاسته او پاسیدو، کورته د داخلیدو، د سوریدو، جماعت ته د داخلیدو، جماعت نه د بهر وتلو، بیت الخلاء (غسل خانه تهتی) او دده نه دوتلو، د غم زیلی لیدلو په وخت د ویونکو دعاګانو پابندی کول.

چه په هغې اکثر مونږ په خپله رساله «حصن المسلم» کښې په مختلفو حالاتو او مناسبو مقاماتو او وختونو کښې ذکر کړې دي.

په دې کښې څه شک نشته که د ذکر شوې دعاګانو پابندی د هغې وَجَو نه دی چه دې سره انسان (د الله په حکم سره) د جادو، د غلط نظر او د پیریانو د اثر نه محفوظ کوی، د غه رنګې ذکر شوی مصیبتونه وغیره د راتلو نه پس هم دا دعاګانې په سبنه علاج کښې دی.

(۴): که ممکنه وی نو سحر په نهره اووه کجهورې خوړل هم د جادو د پاره فائده منده دی. په دې وجه د رسول کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دے چه.

مَنْ اَصْبَحَ بِسَبْعِ تَمَرَاتٍ عَجْوَةٍ لَمْ يَضُرُّهٗ ذَالِكَ الْيَوْمُ

سَمٌّ وَلَا سِحْرٌ . (بخاری)

ترجمہ :- چاچه د سحر ناشته په اووه عجوه کجورو باندے اوکړله، نو په دغه ورځ ده ته زهر او جادو نقصان نشی رسولے . (بخاری شریف) .

(عجوه د مدینے منورے یوه خاص کجوره ده چه هغه د ټولو نه افضل او بهترو کجورو کښے ده) سبه دا ده چه دا د مدینے منورے د وه خورو ترمینځه پیدا شوے کجورے وی، لکه څنګه چه د مسلم په روایت کښے راغلی دی، خو د شیخ عبد الله بن باز حفظه الله (د سعودی د ملک غټ مفتی) خیال دا دے چه د مدینے هغه ټولے کجورے چه په هغے کښے دا خاصیت موندلے شی د هغے خوړل کافی دی ځکه چه د حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد دے :

چه کوم سړے سحر د مدینے د مینځنی غرونو اووه کجورے اوخوری نو.......

څرنګه چه د شیخ خیال دے که چا د مدینے د کجورو نه علاوه د بل ځائے اووه کجورے هم په دے ذکر شوے طریقه اوخوړلے نو د هغه د پاره به هم هغسے فائده ورکوی .

دویم قسم د جادو د چلیدو نه پس د جادو علاج :-

. د هغے څو قسمه دی :

ړومبے قسم : دا د جادو ویستل او کټ کول دی، کله چه دا دے ځائے او مقام په داسے طریقه سره معلوم کړے شی چه شرعاً جائز وی او دا د مسحور د پاره د ټولو نه ښه علاج دے .

دویم قسم :- دم دوه جائز ده . بیا هم هغه دیر طریقے دی :-

(۱) :- د بیرے اووه تنے پانړے واخله او هغه او تکوه، بیا په دے کښے دومره اوبه ملاؤ کړه چه هغه د غسل د پاره کافی شی، او په دے باندے تعوذ، آیت الکرسی، د سورة اعراف آیت ۱۱۷ نه تر آیت ۱۲۲ پورے، د سورة یونس آیت (۷۹) نه تر آیت (۸۲) پورے، د سورة طٰهٰ آیت (۶۵) نه تر آیت (۷۰) پورے، سورة الکافرون، سورة اخلاص، سورة فلق، سورة الناس اولولئ او دم ئے کړئ، او بیا د دے اوبو نه لږے غونډے واخلئ او درے ځله ئے اوڅکئ او په نورو اوبو باندے غسل اوکړئ انشاء الله د جادو اثر به ختم شی، خو که دوباره ضرورت شی نو همدغه رنګه دے کوی حتیٰ چه بیماری بالکل ختمه شی، دا طریقه ډیرو خلقو ازمائیلے ده او الله تعالیٰ د دے په ذریعه دے سړو فائده رسولے ده، خاص طور سړو د دا سړی د پاره ډیر مجرب ده چه د جادو په ذریعه سړو د خپلے ښځے نه نیولے شوے وی. (فتح الباری)

(۲) :- سورة فاتحه، آیت الکرسی، د سورة بقره آخری دوه آیتونه، سورة اخلاص او معوذتین په متاثره ځائے باندے کس لاس درے ځله راکاږئ - په هغه ځائے باندے دم کول ډیر فائده مند دی. (بخاری، مسلم)

د جادو دختمولو د پاره دوه د څه او جامع دعاګانې

(۱) :- اووه ځله دا دعاء اووایه او په مریض باندې دم کړې انشاءالله شفاء به ورته ملاو شي

أَسْئَلُ اللهَ الْعَظِيْمَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَنْ يَشْفِيَكَ

(ترمذی) . ترجمه : زه د هغه لوئ الله جل جلاله نه سوال کوم چه هغه د عرش مالك دے چه تا ته شفاء درکړي .

(۲) :- مریض دے د خپل بدن په متاثره ځائے باندے لاس کیږدی او بیا دے درے ځله بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اووائی، او بیا دے اووه ځله دا دعا اووائی او دم دے کړي. انشاءالله ډیر زر به شفاء اومومی :

اَعُوْذُ بِاللهِ وَقُدْرَتِهٖ مِنْ شَرِّ مَا اَجِدُ وَاُحَاذِرُ (مسلم)

ترجمه :- په الله او د هغه په قدرت پناه غواړم د هغې شر نه کوم چه زه مومم، او د کوم چه اندیښنه کوم .

(۳) :- د دے دعاء ویلو او دم کولو سره ډیره فائده کیږی او ډیره مجربه ده :

اَللّٰهُمَّ رَبَّ النَّاسِ اَذْهِبِ الْبَأْسَ وَاشْفِ اَنْتَ الشَّافِيْ لَاشِفَاءَ اِلَّاشِفَاءُكَ شِفَاءً لَايُغَادِرُ سَقَمًا . (بخاری)

ترجمه :- اے الله! د خلق خدایه! هغه مصیبت لرے کړه او شفاء راوبخښه هم ته شفاء ورکولو والا یئے، نشته شفاء مګر ستا شفاء، داسے شفاء چه هغه بیماري بالکل نه پریږدي .

(۴) :- اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّآمَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَّهَامَّةٍ

وَّمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ (بخاری)

ترجمه :- پناه غواړم زهٔ د الله تعالیٰ په کلمات تامه سره د هر شیطان او وسوسه اچولو والا او د هر بد نظر نه.

(۵) :- اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّآمَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ. (مسلم)

ترجمه :- زهٔ پناه غواړم د الله تعالیٰ د هغه کلماتو نه چه هغه پوره دی، په هغې کښې څهٔ نقصان نشته د هغهٔ د پیدا کړی ټول مخلوق نه.

(٦) :- اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّآمَّاتِ مِنْ غَضَبِهٖ وَعِقَابِهٖ وَشَرِّ عِبَادِهٖ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِيْنِ وَ اَنْ يَّحْضُرُوْنَ ط (ابوداؤد)

ترجمه :- پناه غواړم زهٔ د الله تعالیٰ په کلمات تامه سره او د هغهٔ د غضب او عذاب نه او د هغهٔ د بنده ګانو د شر او د شیطانانو د چیړچاړ نه او د دے نه هم چه شیطان ما سره حاضر شي.

(۷) :- حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رض به دا تعویذ په خپلو هوښیارو بچو باندے لفظ په لفظ یادولو، او د ناپوهه بچو په غاړه به ئے تعویذ کړو او ورته به ئے وا چولو:

اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّآمَّاتِ الَّتِىْ لَا يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَّلَا فَاجِرٌ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ وَ بَرَاَ وَ ذَرَاَ وَمِنْ شَرِّ مَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ وَمِنْ شَرِّ مَا يَعْرُجُ فِيْهَا وَمِنْ شَرِّ مَا ذَرَاَ فِى الْاَرْضِ وَمِنْ شَرِّ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمِنْ شَرِّ فِتَنِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمِنْ شَرِّ كُلِّ طَارِقٍ اِلَّا طَارِقًا يَّطْرُقُ بِخَيْرٍ يَا رَحْمٰنُ. (مسند احمد)

ترجمہ :- زهٔ د الله تعالیٰ په کلمات تامّه سره چه په هغې سره نهٔ نیک یځ کیدے شي او نهٔ بد، پناه غواړم د هر هغه څیز د شر نه چه هغه د آسمان نه رانازلیږی او هغه چه آسمان ته ختیږی، او د هر هغه څیز د شر نه، کوم چه په مزکه کښے دننه پیداکیږی، او هغه چه د مزکے نه راوځی، او د ورځے او شپے د فتنو د شر او د شپے او ورځے د ناڅاپی واقعاتو او حادثاتو د شر نه بدل د هغهٔ د ښیٔ حادثے نه چه هغه خیر راوړی. اے رحمان او بخښونکیه!

ذکر شوے درے واړه دُعاګانے د هر قسم شر نه د حفاظت د پاره ډیرے مجربے دی، څوک چه دا روزانه سحر او ماښام اولولی، او ماشومانو د پاره ئے اولیکی، او په غاړه کښے ورته واچولے شی، انشاء الله تعالیٰ به خپله هم او بچی به ئے هم د هر قسم مصیبت نه محفوظ وی۔

(۸) :- دا دعاء لوستل د هر قسم مصیبت او جادو د پاره بے حده مجرب دی :

اَللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوٰى وَمُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالْاِنْجِيْلِ وَالْقُرْاٰنِ، اَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْءٍ اَنْتَ اٰخِذٌ بِنَاصِيَتِهٖ اَنْتَ الْاَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ وَّاَنْتَ الْاٰخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ وَاَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ وَاَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُوْنَكَ شَيْءٌ ط (مسلم)

ترجمہ: اے اللہ! د آسمانونو او مزکو ربہ! د عرش عظیم ربہ! زمونږ او د هر څیز ربہ! د دانے او هډوکو نه شلید و سره (اُونه پیدا کوونکیه) تورات، انجیل او د قرآنکریم نازلوونکیه! زهٔ ستا پناه غواړم د هر هغه څیز د بدی نه چه هغه ستا په قبضه کښے وی۔ اے خدایه! تهٔ د ټولو نه ړومبے یئے ستا نه مخکښے هیڅوک نهٔ وو، او آخر کښے به هم تهٔ پاتے یئے، ستا نه پس به هیڅوک پاتے نهٔ وی، هم تهٔ ظاهر یئے، ستا د پاسه هیڅ نشته، او هم تهٔ دننه یئے (باطن) ستا نه لاندے هیڅ نشته۔

(۹) :۔ چه په کوم سړی باندے د پیری، جادو یا د بد نظر وغیره اثر وی، که په هغهٔ باندے دا دعاء دم کړے شی، نو انشاءالله شفاء به بیاموهی:

بِسْمِ اللهِ اَرْقِيْكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُّؤْذِيْكَ وَمِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ اَوْعَيْنٍ حَاسِدٍ اَللهُ يَشْفِيْكَ بِسْمِ اللهِ اَرْقِيْكَ. (مسلم)

ترجمہ:۔ د الله پاک په نوم سره لهٔ تا باندے دم اچوم زهٔ د هر هغه څیز نه چه تکلیف رسوی او د هر سړی او د نفس د شر یا د حسد کوونکو والا د سترګو د شر نه، الله دے تا له شفاء درکړی.

زهٔ د الله په نوم سره په تا دم اچوم۔

(۱۰) بِسْمِ اللهِ يُبْرِيْكَ وَمِنْ كُلِّ دَاءٍ يَشْفِيْكَ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ وَمِنْ شَرِّ كُلِّ ذِيْ عَيْنٍ. (مسلم)

ترجمہ:۔ د الله تعالی په پاک نوم سره الله تعالی دے تا له برکت

درکړي او د هرې بيمارۍ نه دې درته شفاء درکړي او د حسد کوونکو، کله چه دوئ حسد شروع کړي او د هر نظر کوونکي د شر نه.

بِسۡمِ اللّٰهِ اَرۡقِيۡكَ مِنۡ كُلِّ شَيۡءٍ يُؤۡذِيۡكَ مِنۡ حَسَدِ حَاسِدٍ وَمِنۡ كُلِّ ذِيۡ عَيۡنٍ اللّٰهُ يَشۡفِيۡكَ ط (ابن ماجه)

ترجمه: د الله جل جلاله په نوم سره زه تا دم کوم د هر هغه څيز نه چه تا ته ئې تکليف درکړې او د حسد کوونکي د حسد نه او د نظر کوونکي والا د شر نه دې الله تعالیٰ تا له شفاء درکړي.

د دې ټولو ذکر شوو تعوذ اتو د ذکرولو او د موبو سره جادو، بد نظر او د پيريانو د اثر علاج کيږي، د الله تعالیٰ په فضل سره دا دم ډير فائده مند او مکمل دې.

د علاج دريم قسم :-

که ممکنه وي نو په هغه ځائې يا بدن يا ندې دې اولګو په کومې چه د جادو اثر ظاهر شوې وي، او که دا ممکنه نه وي، نو (دويم قسم کښې) چه کومه طريقه د علاج بيان شوه هغه کافي ده.

د بد نظر علاج

د بد نظر د علاج ډيرې طريقې دي رومبي قسم د پاره د احتياط د بد نظر د لګيدو نه مخکښې ده، او بيا د دې ډيرې طريقې دي

(۱) :- چا ته چه د نظر لګيد وخطره وي، نو هغه دې پټ له يا دې

بل خوك په هغه باندے هغه ذکرونه او دعا گانے وغیره ووائی او پرے دم دے کړی چه د هغے ذکر د جادو د علاج په بیان کښے تیرشو.

(۲) :- چاته چه د خپل نظر د لګیدو خطره وی، نو هغه له پکار دی چه هغه کله خپل ځان، خپل دولت او اولاد یا د بل ورور مال یا دولت یا اولاد وغیره ته وګوری، نو هغه د پاره دے د برکت دعا اوکړی، او دا دعاء دے اووائی:

مَا شَاءَ اللّٰهُ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَيْهِ (موطا مالک)

نو دده د نظر اثر به نه وی، ځکه چه د حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دے چه کله به تاسو کښے یو د بل مسلمان څه څیز اووینی او هغه ده ته خوښ راشی نو پکار دی چه د هغه د پاره د برکت دعاء اوکړی.

(۳) : چاته چه د نظر لګید لو خطره وی، د هغه خوبۍ دے پټے کړے شی.

دویم قسم :-

د نظر لګید لو نه پس علاج او دد ے هم ډیرے طریقے دی: (۱) که د نظر لګید لو والا معلوم وی، نو هغه ته دے او وئیلے شی چه هغه دے اودس اوکړی بیا دے د دے اودس په استعمال شویو اوبو باندے نظر لګیدلے سړے غسل اوکړی (ابوداؤد)

(۲) :- سورة اخلاص، معوذتین، سورة فاتحه، ایت الکرسی د سورة بقره آخری دوه آیتونه او هغه شرعی دعاګانے چه د جادو د علاج په بیان کښے تیرے شوے هغه دے په کثرت سره

اوواۍ، اوپه متأثره ځاۍ باندې دې مبنی لاس کش کړي او دم دې کړي انشاء الله ډیر زر به شفا بیاموملي ډیر زیات مجرب دي.

(۳) :- همدا ذکر شوې آیات (سورة اخلاص، معوذتین، سورة فاتحه، آیت الکرسی، د سورة بقره آخري دوه آیتونه) او دعاګانې دې اوواۍ اوپه اوبو باندې دې دم کړي، بیا دې مریض ددې نه څه اوبه اوڅکي او نورې دې په ځان باندې واچوي، یا دې په تیلو باندې دم کړې شي او مریض دې پرې مالش کړې شي انشاء الله شفاء به بیاموملي، اوکه د زمزم اوبه موجود وي نو په هغې دې دم کړې شي نو په اثر کښې به ئې ډیر زیات اوشي

(۴) :- سورة فاتحه، ایت الکرسی، د سورة بقره آخري دوه آیتونه، سورة اخلاص، معوذتین (یعنی سورة فلق او سورة الناس) او ذکرشوې دعاګانې دې اولیکلې شي او مریض دې اوڅکي، او په اوبو کښې دې واچولې شي او په دغې اوبو باندې دې مریض غسل اوکړي نو ډیر مفید او مجرب دی.

دریم قسم

هغه اسباب اختیارول چه هغه د حاسد بد نظر دفع کوي هغه دا دي:

(۱) :- د الله پناه غوښتل د حاسد د شر نه.

(۲) :- د الله یره او د الله حکمونه پوره کول، او د الله د نواهیو (بدو کارونو) نه منع کیدل. څرنګه چه د حضور ﷺ ارشاد مبارک دې: إِحْفَظِ اللّٰهَ يَحْفَظْكَ، ته د الله د حکمونو حفاظت

کوي؛ الله تعالیٰ به ستا حفاظت کوي .

(۳) ؛ د حاسد د تکلیف په رسولو باندې صبر او هغهٔ ته معافي ورکول او د هغه سره جګړه نهٔ د هغهٔ شکایت (کیله) او نهٔ په خپل زړهٔ کښې هغهٔ ته د تکلیف رسولو خیال پیدا کړي .

(۴) :- په الله تعالیٰ باندې باور کول، ځکه چه څوک په الله باندې توکل او باور اوکړي نو د هغهٔ د پاره الله تعالیٰ کافي دے .

(۵) :- نه دے د حاسد د حسد نه یرهٔ کوي او نهٔ دے زړهٔ د هغهٔ په فکر کښې مشغول اوساتي او دا ډیره ښه دوا ده .

(۶) :- د الله تعالیٰ طرفته توجه او اخلاص او د الله تعالیٰ د رضا او خوشحالولو کوشش .

(۷) :- د ټولو ګناهونو نه توبه، ځکه چه ګناه په انسان باندې د هغهٔ دشمنان مسلط کوي .

د الله تعالیٰ ارشاد دے :

وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ۝

ترجمه :- او کوم مصیبت چه په تاسو باندې راځي هغه بدله ده د هغې اعمالو چه تاسو په لاسونو کړي دي، او الله تعالیٰ ستاسو ډیر ګناهونه معاف کوي .

(۸) :- کوم ځاے پورې چه ممکنه وي صدقه او نیک عمل کول ځکه چه د مصیبت او حاسد د شر او د بد نظر په لرې کولو کښې صدقه او نیک عمل ډیر مؤثره وي .

(۹) :- د حاسد او تکلیف رسولو والا د دشمنۍ او هغه په باندې احسان کولو سره مرکول، کله چه د هغه د طرف نه تکلیف او شرارت او سرکشي او په حسد کښې اضافه وي، نو ته په هغه باندې احسان، خیرخواهي او مهربانۍ کولو کښې اضافه اوکړه، خو دے توفیق صرف خوش نصیبو خلقو ته ملاویږي .
(۱۰) :- د الله تعالیٰ د خالص توحید نه زړه ډکول چه د هغه د حکم نه بغیر هیڅ یو څیز نه فائده ورکولے شي او نه نقصان، او هغه د فائدے او نقصان دواړو مالك دے - هم په دې توحید باندے د ټولو ذکر شویو اسبابو دار و مدار دے، بس توحید د الله تعالیٰ هغه لوییه قلعه ده چه څوك په دے کښې داخل شوو نو هغه محفوظ شو .

دغه لس وجې، د حسد کوونکي والا شرارت، د نظر لګولو والا نظر او د جادو کولو والا جادو لرے کوي .

د پیریانو د اثر علاج

آسیب او د پیریانو د اثر علاج دوه قِسمه دے :
ړومبے قسم : د اثر کولو نه مخکښې :
د ټولو فرائضو او واجباتو پوره کول، د ټولو محارمو نه بچ کیدل، د ټولو ګناهونو نه توبه ویستل، ذکرونه او دُعاګانې او د تعویذاتو پابندي انسان د جناتو د اثر نه بچ کوي .

دویم قسم: د اثر کیدلو نه پس :-

دا د هغه مسلمان د دم کولو سره کیږي چه د هغهٔ په زړهٔ او ژبه کښې موافقت وي. د دے د تهولو نه لویٔ علاج سورة فاتحه، آیت الکرسی، د سورة بقره آخري آیتونه، سورة اخلاص سورة فلق، سورة ناس د پیریانو والا سړي بانذے د[۳] ځله دم کول پکار دي، او د دے نه علاوه چه څومره قرآني آیتونه یاد وي او دے لولی او دم دے کړي. د دے وجې نه چه قرآن ټول د زړهٔ د بیماریانو د پاره شفا ده، او مؤمن د پاره شفا ده هدایت او رحمت دے.

او د هغه دعاګانو لوستل هم ډیر ګټور دي چه د هغې ذکر د جادو په علاج کښې تیر شو، خو په دے علاج کښې د دوو څیزونو کیدل ډیر ضروري دي، یو د پیریاني سړي د اړخ نه چه علاج د زړهٔ د الله تعالیٰ یقین طرف ته په رښتینې توبے سره او دا سے صحیح تعوذ سره وي. چه په هغې سره زړهٔ او ژبه مطمئن وي. دویم د علاج کوونکي د اړخ نه چه په هغهٔ کښې هم بر ني صفات وي. ځکه چه یوه محاوره ده د اسلحے زور د لاس په زور بانذے منحصر وي.

د نفسیاتي بیماریو علاج

د نفسیاتي بیماریو او د زړهٔ تنګی د ټولو نه بنهٔ علاج مختصر په لاندے ډول سره ذکر دے :

(۱) :- هدایت او توحید (د نفسیاتي بیمارو او د زړهٔ د لوئے کولو لوئه

وجه ده) ځرنګه چه ګمراهي او شرك د زړهٔ د تنګۍ لویه وجه او سبب دے.

(۲) :- د رښتوني ایمان هغه نور چه هغه الله تعالیٰ د خپل بنده په زړهٔ کښے اچوي په نیك عمل سره .

(۳) : فائده مند علم : کله چه د انسان علم وسیع کیږي، نو د هغهٔ سینه فراخیږي او په دے کښے فراخوالے پیدا کیږي .

(۴) :- د الله تعالیٰ طرف ته رجوع او د الله تعالیٰ سره د زړهٔ مکمل محبت او د الله تعالیٰ طرف ته توجه او د عبادت په ذریعه د الله تعالیٰ د نعمتونو شکریه اداء کول .

(۵) :- همیشه په هر ځائے او هر حال کښے د الله تعالیٰ ذکر په پابندۍ سره کول ددے وجے نه ذکر ته د زړهٔ فراخیدل او په پریشانئ او غم لرے کولو کښے عجیبه تاثیر دے .

(٦) :- بنده ګانو سره هر قِسمه ښیګڼه کول او کوم ځائے پورے او کوم څیز نه چه ممکنه وي، مخلوق ته فائده رسول، ددے په بدله کښے الله تعالیٰ د ټولو خلقو نه زیات ښه پراخیدلو والا او زړهٔ صفاکولو او زړهٔ خوشحالولو والا دے .

(۷) :- بهادري: ځکه چه د بهادر سړي سینه فراخه او زړهٔ ئے لوئے وي .

(۸) :- د زړهٔ نه هغه غلط صفات ویستل چه هغه د زړهٔ د تنګۍ او تکلیف وجه جوړیږي، مثلاً : حسد، بغض، کینه، دشمنی سرکشي، ځکه چه دیو څیز فاسد کیدل، د هغهٔ عیب شماریږي

دا خبره ثابته ده - د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوکړے شوه چه په خلقو کښې د ټولو نه افضل کوم کس دے ؟ حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

كُلُّ مَخْمُوْمُ الْقَلْبِ صَدُوْقُ اللِّسَانِ ط (ابن ماجه)

ترجمه :- هر پاک زړه او رښتونے ژبے والا . صحابه کرامو رض عرض اوکړو - چه رښتونے ژبے والا خو موږ پیژنو ، مخموم القلب نه مراد څوک دے ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو : هر پرهیزګار ، د ګناهونو نه بچ کیدلو والا ، چه د ده په زړه کښې څه ګناه ، سرکشي ، کینه او حسد نه وی . (ابن ماجه)

(۹) :- فضول لیدل ، فضول وینه ، فضول اوریدل ، فضول ملاویدل فضول خوړل او فضول اوده کیدل ، لوئے کول ، چاچه دا څیزونه ختم کړل ، نو دا د ده د زړه د فراخیدو او پریشانئ او دغم د ختمیدلو وجے دی

(۱۰) :- څه فائده مند علم یا کار کښې مشغولیدل ځکه چه دا زړه د پریشانئ پیدا کولو والا څیزونو نه لرے ساتی .

(۱۱) :- د موجوده کارونو د کولو اهتمام کول او په مستقبل کښې د راتلونکو کارونو څخه فکر او انتظام فی الحال لرے کول او تیر شوی غمونه هیرول - ځکه چه انسان په هغه کارونو کښې محنت او کوشش کول چه هغه د ده ته په دین دنیا کښې فائده ورکوی ، او تیر شوی غمونه یا ګاډ یادول هسے بے فائدے دی او د الله تعالیٰ نه په خپل مقصد کښې د کامیابئ دعا کول او په هغے د الله نه مدد غوښتل ځکه

چه دا خيزونه زړه د فکرونو او غمونو نه صفا کوي.

(۱۲):- د خپل ځان نه کمتره خلقو ته کوره! او کوم چه ستا نه په مال، دولت او رزق کښې سبه وي د هغه طرف ته مه کوره! (ځکه چه دده طرف ته کتل انسان خفه کوي.)

(۱۳):- د تير شوي داسې واقعات چه د هغې لرې کول ممکن نه وي هغه هيرول او د هغې هيڅ فکر نه کول.

(۱۴):- کله چه په انسان څه مصيبت راشي نو هغه له پکار دي چه د دغه مصيبت د کمولو کوشش دې اوکړي او همدغه رنګه په هغې غلطو احتمالاتو چه هغه ده ته مصيبت رسوي په هغې دې قابو راولي او د خپل طاقت مطابق دې د هغې مقابله اوکړي.

(۱۵):- زړه مضبوط ساتل او د يرې او پريشانئ او هغه خيالونو او وهمونو چه زړه په غلطو خيالاتو کښې اچوي، د هغې نه ځان ساتل، غصه نه کول، د خوښې خيزونو په تلو او ناخوښه خيزونو په راتلو باندې غم نه کول، بلکه هر کار د الله تعالیٰ په حواله کول او ورسره مفيد اسباب اختيارول او د الله تعالیٰ نه د معافئ دعا غوښتل.

(۱۶):- د الله تعالیٰ په پاک ذات باندې د زړه پوره اعتماد او ښه ګمان، ځکه چه په الله تعالیٰ باندې د يقين ساتلو والا په مقابله کښې وهمونه او وسوسې هيڅ اثر نه لري.

(۱۷):- هر عقلمند سړې دا خبره مني چه ښه صحت او تندرستئ زندګئ د خوشئ قسمتئ او اطمينان زندګئ ده چه هغه ډيره مختصره وي،

دد ے په وجه هغه د غمونو او تکلیفونو په وجه سره دا نوره تنکول نه غواړي، ځکه چه دا د صحیح ژوند دشمنان دي .

(۱۸):- کله چه یو انسان ته دیني یا د نیوي نعمت سره څه تکلیف ملاوُ شي، نو هغه له پکار دي چه په دے مصیبت کښے کوم نعمت دے، هغه دے زیات بیان کړي - دغه که دیو څیز نه د نقصان وجه وي او د دے نه د بچ کیدلو د پاره ډیر احتمالات موجود وي، نو د نقصان د څهٔ قسمه کمزور احتمال دے په ځان باندے په دا سے قسم مسلط نه کړي چه هغه حفاظت په ډیرو مضبوطو وجو باندے غالب راشي د غسے کولو سره به د دغه انسان غم او فکر ختم شي .

(۱۹):- دا خبره په ښه طریقه سره په ذهن کښے کښینوه، چه د خلقو یو انسان ته د تکلیف رسولو اراده د غه انسان ته هیڅ نقصان نشي رسولے، خاص طور سره غلطے خبرے (فضول خبرے) د غه انسان ته هیڅ نقصان نشي رسولے، بلکه دا کار هم د غه خلقو ته نقصان رسوي، څوک چه دا سے کوي، انسان دے د دے فکر ته هغه وخته پورے نه کوي کله پورے چه ده ته نقصان نهٔ وي رسیدلے .

(۲۰):- خپل خیالونه او فکرونه دے په دا سے کارونو کښے اولګوي چه هغه ورته د دنیا او آخرت فائده ورکړي.

(۲۱):- د یو انسان نه دے د احسان په بدله کښے د شکر ییه او مهربانئ خواهش نهٔ لري، بلکه د الله تعالیٰ نه دے اوغواړي

او دا چه دے دے پوهه شي چه دده دا معامله د الله تعالى سره ده، لهذا چه په چا احسان شوے وي، د هغه نه دے د شکريه پرواه اونکړي. د الله پاك ارشاد دے:

اِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللّٰهِ لَا نُرِيْدُ مِنْكُمْ جَزَاۤءً وَّلَا شُكُوْرًا

ترجمه :- مونږ خوراك درکوو تاسوته د الله د رضا د پاره، نه غواړو د تاسونه بدله اونه شکرگذاري غواړو.

دخپل اهل وعيال او اولاد په معامله کښے د دے خبرے احترام ساتي.

(۲۲):- فائده مند کارونه دے دخپلے زندگی مقصد جوړ کړي، او په دے دے عمل اوکړي، او ضرر رسوونکو کارونو طرفته دے نظر قدرے هم نه اچوي، او په دے کښے دے خپل فکر او دماغ نه مشغولوي.

(۲۳) :- موجوده کارونه دے اوکړي، او په راتلونکے زمانه کښے کارونه دي، د هغے تر راتلو پورے ختم کړي، تر هغے پورے چه هغه وخت راشي، نو بيا دے هغه په پوره سوچ او پوره طاقت سره اوکړي.

(۲۴) :- فائده مند کارونه او فائده مند علم دے اختيار کړي، خاص طور سره هغه کارونه او علمونه چه هغے کښے زيانته دلچسپي وي، او په دے کارونو او علومو کښے دے د الله تعالى نه دعا غواړي، او مخلصانو سره دے مشوره کوي، کله چه په دے کښے فائده اومومي او دده قصد دے اوکړي، او په الله ج دے توکل اوکړي او کار دے شروع کړي.

(۲۵):- د الله تعالیٰ د ظاهری او باطنی هر قسم نعمتونو بیان دے
او کړی ځکه چه د دے نعمتونو په پوهیدلو او بیان کولو سره الله
تعالیٰ فکر او غم لرے کوی او انسان کښے د شکر توفیق پیدا کوی ۔
(۲۶):- سنځه، نژدے رشته دار یا په نورو داسے دوستانو کښے
چه هغوئ سره تعلقات زیات وی، بنه کارونو سره که په هغه
کښے څه نقصان اووینی، نو د هغه په بنه کارونو باندے نظر
ساتئ، د دے په وجه چه په بنه کارونو باندے نظر ساتلو سره
دوستی مستقله وی او سینه به د دے فراخه وی ۔ د رسول الله صلی
الله علیه وسلم ارشاد مبارک دے :- ایماندار سړے، ایماندار
ښځه خپل مینځ کښے نشی ورانولے، د دے په وجه چه د هغې لو
عادت هغه ته بد اولګی، نو بل عادت به ئے ورته خوښ وی ۔
(۲۷):- د خپلو ټولو کارونو اصلاح دے کوی او دا دعاء دے کوی:
اَللّٰهُمَّ اَصْلِحْ لِیْ دِیْنِیَ الَّذِیْ هُوَ عِصْمَةُ اَمْرِیْ
وَدُنْیَایَ الَّتِیْ فِیْهَا مَعَاشِیْ وَاٰخِرَتِیَ الَّتِیْ اِلَیْهَا مَعَادِیْ
وَاجْعَلِ الْحَیَاةَ زِیَادَةً لِّیْ فِیْ کُلِّ خَیْرٍ وَّالْمَوْتَ رَاحَةً
لِّیْ مِنْ کُلِّ شَرٍّ ۔ (مسلم)
ترجمه :- اے خدایه! ټهیک ساته زما دین چه هغه زما په
حق کښے بچاؤ دے، او ټهیک ساته زما دنیا، چه په هغے کښے زما
روزګار دے، او ټهیک ساته زما آخرت ځکه چه هلته زما
ورتلل دی او د خیر په کارونو کښے زما زندګی زیاته کړه، او مرګ
زما د پاره د آرام سبب کړے د هرے بدئ نه ۔

دغه رنګ دے دا دعا هم غواړی :

اَللّٰهُمَّ رَحْمَتَكَ اَرْجُوْا فَلَا تَكِلْنِيْ اِلٰى نَفْسِيْ طَرْفَةَ عَيْنٍ وَاَصْلِحْ لِيْ شَاْنِيْ كُلَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ ۰ (ابوداوُد)

ترجمہ :- اے الله ! ستا د رحمت امید لرم، ما لږ وخت لره هم د نفس په حواله نهٔ کړے، او زما ټول معاملات ټهیک کړے. نشته څوک د عبادت لائق مګر ته یئے .

(۲۸):- د الله تعالیٰ په لار کښے جهاد کول، ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل :

جَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَاِنَّ الْجِهَادَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بَابٌ مِنْ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ يُنْجِي اللّٰهُ بِهٖ مِنَ الْهَمِّ وَ الْغَمِّ ۰ (مسند احمد)

ترجمہ :- د الله تعالیٰ په لار کښے جهاد کوئ، ځکه چه د الله په لاره کښے جهاد کول د جنت د دروازو نه یوه دروازه ده، الله تعالیٰ د دے په ذریعه سره د غمونو او سوچونو نه نجات ورکوی .

کوم سړے چه په دے اسباب او وسائلو کښے غور او فکر کوی او رښتیا او اخلاص سره دا اختیار کړی، نو نفسیاتی مرضونو او د زړه تنګوالی د پاره دا وسائل به ډیر مفید او موثر وی، بعضے عالمان په ژبائو وختونو کښے د دے اسبابو نه د نفسیاتی مرضونو علاج کوی او الله تعالیٰ د دے په ذریعے سره ډیره فائده رسوی .

د زخم علاج

حضرت سفیان رحمه الله فرمائی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکښې چه به کله یو بیمار شکایت اوکړو، یا به په ده باندې څه زخم وغیره وو، نو حضور صلی الله علیه وسلم به خپله مبارکه ګوته داسې کړله، او حضرت سفیان رحمه الله (چه د دې حدیث مبارک راوی دے) خپله مسواکه ګوته په مزکه کیښودله او بیائې اوچته کړله او ویې فرمائیل:

بِسْمِ اللّٰهِ تُرْبَةُ اَرْضِنَا بِرِيْقَةِ بَعْضِنَا يُشْفٰى سَقِيْمُنَا بِاِذْنِ رَبِّنَا (بخاری)

ترجمه:- شروع د الله د نوم نه، دا زمونږ د مزکے خورده ده چه هغه زمونږ د یو بل توکانړو سره ملاؤ ده، په دې وجه چه زمونږ بیمار زمونږ د رب په حکم سره شفا بیامومی.

د حدیث مطلب دا دے چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به خپلې لاړے مبارکے په خپلې مسواکۍ ګوتے مبارکے باندے ولګولے او بیائې په مزکه کیښودله، د دے سره به څه خاوره ولګیدله، نو هغه به ئې په زخم یا بیمار سړي سره ولګوله او دا الفاظ به ئې اوفرمائیل.

د مصیبت علاج

(۱) :- په انسان باندے چه کوم یو مصیبت راځی نو هغه ده ځ په تقدیر کښے یا ده ځ د ګناهونو نتیجه یا د الله د طرف نه امتحان وی. لهذا په دے باندے چغے سورے وهل فضول دی، بلکه په انسان باندے لازم دی چه د الله طرف ته دے رجوع اوکړی چه هغه په ده ځ باندے رحم اوکړی، دغه رنګه د الله پاک ارشاد دے :

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اِلَّا فِيْ كِتَابٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَا ۭ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝ لِّكَيْلَا تَاْسَوْا عَلٰي مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوْا بِمَآ اٰتٰىكُمْ ۭ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرِۨ ۝

ترجمه :- هیڅ افت نه پریوځی په ملک کښے او نه ستاسو په ځانونو باندے کوم چه تقدیر کښے لیکلے شوے نه وی په یو کتاب کښے مخکښے له دے نه چه مونږ په دنیا کښے پیدا شو. بیشکه دا الله ته آسان دی ترڅو چه تاسو غم اونکړی په هغه څه چه لاس ته نه راځی او نه خوشحالی کوی په هغه څه چه تاسو ته درکړے شوی دی او الله تعالیٰ نه خوښوی هغه کس چه په مصیبت کښے چغے او فریاد کوی.

(۲) : په دویم ځائے کښے ارشاد دے :-

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ وَمَنْ يُّؤْمِنْ

بِاللّٰهِ یَهۡدِ قَلۡبَهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِکُلِّ شَیۡءٍ عَلِیۡمٌ ○

ترجمہ:۔ نهٔ رسیږي څه هیڅ تکلیف بغیر د الله تعالیٰ د حکم نه او هغه څوک چه یقین اوکړي په الله تعالیٰ نو الله تعالیٰ لارښود نه کوي زړهٔ د هغهٔ ته او الله تعالیٰ په هر څیز باندے عالم او پوهه دے.

(۳) :۔ رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد فرمائی چه کله یو انسان ته تکلیف رسی او هغه دا الفاظ وائی:

اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَیۡهِ راجِعُوۡنَ اَللّٰهُمَّ اَجِرۡنِیۡ فِیۡ مُصِیۡبَتِیۡ وَاخۡلُفۡ لِیۡ خَیۡرًا مِنۡهَا ط

ترجمہ:۔ مونږ د الله د پاره یو او هم د هغهٔ طرف ته به ځو اے زما خدایه! ما له د دے مصیبت په بدله کښے اجر راکړے، او د دے نه ښه څیز راکړے.

نو الله تعالیٰ د دے په بدله کښے اجر ورکوي او د دے نه ښه څیزونه ورته وربخښي. (مسلم)

(۴) :۔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارك ارشاد دے: چه کله د یو سړي بچے مړ شي نو الله تعالیٰ (سره د علمه) د فرښتو نه تپوس کوي تاسو زما د بنده د ځوئے روح واخستلو؟ نو هغوئے عرض کوي او (اے ربه!) بیا دے (الله) تپوس کوي، تاسو زما د بنده د زړهٔ ټوټه واخستله؟ هغوئے عرض کوي، هو! اے ربه! الله تعالیٰ ارشاد فرمائی: زما بنده څهٔ اوکړل؟ نو فرښتے عرض کوي: ستا تعریف ئے بیان کړو او اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَیۡهِ رَاجِعُوۡنَ ئے اووئے. بیا الله تعالیٰ ارشاد فرمائی: زما بنده له د دے په

بدله کښې جنت کښې یو کور جوړ کړئ او د هغې نوم د حمد کور (بیت الحمد) کیږدئ. (ترمذی)

(۵) :- حدیث شریف دے : الله تعالیٰ ارشاد فرمائی: چه کله زما د بنده د دنیاوی په محبوب خیزونو کښې یو خیز د هغهٔ نه واخستې شی او هغه په دے باندے صبر اوکړی او د ثواب امید اوساتی نو زما په نزد د هغهٔ بدله جنت دے۔ (بخاری شریف)

(٦) :- رسول الله صلی الله علیه وسلم یو کس ته چه د هغهٔ حُوئ وفات شوے وو، تسلی ورکوله او ارشاد مبارک ئے ورته اوفرمائیلو: چه آیا تا ته دا خوښه نهٔ ده چه ته د جنت په کومے دروازے ورځے او هغه ستا انتظار کوی.

(۷) :- (حدیث قدسی دے) : الله تعالیٰ ارشاد فرمائی چه کله زهٔ یو انسان د هغهٔ د دوه خوږو خیزونو باندے ازمایم، او هغه په دے باندے صبر کوی او د ثواب امید ساتی، نو زهٔ به د دے دواړو په بدله کښې جنت ورکوم۔ د خوږو خیزونو نه مراد سترګے دی۔ (بخاری شریف)

یعنی چه څوک ړوند کړی او چه څوک په هغې باندے صبر اوکړی او د ثواب امید ساتی د هغهٔ دپاره اجر دے۔

(۸) :- د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دے: کله چه یو مسلمان ته د بیمارۍ یا د څهٔ بل څه په وجه باندے تکلیف اورسی، نو الله تعالیٰ د هغې په بدله کښې د هغهٔ نه ګناهونه داسے لرے کړی څنګه چه د منی په موسم کښې د اونو نه پاڼړے دوړیږی (مسلم)

(۹) :- رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائی: چه کله په یو مسلمان کښې زغنا (کانټا) یا دده نه هم نرے ځیز ننوځي، نو دده د پاره یوه نیکي لیکلے کیږي او یوه ګناه ئې معاف کیږي. (مسلم شریف)

(۱۰) :- د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دے: چه کله یو مؤمن ته تکلیف، ستړی والے، بیماري یا غم (خفګان) حتیٰ چه داسے سوچ چه هغه پریشان کړي، دغے بنده ته اورسي نو د هغے په ذریعه د هغه نه ګناهونه لرے کولے شي. (مسلم).

(۱۱) :- رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: چه بیشکه د غټ مصیبت سره لوئے اجر دے. او چه کله الله تعالیٰ یو قوم خوښوي، نو هغوئے په امتحان کښے واچوي، څوک چه په دے امتحان کښے د الله تعالیٰ نه رضاء وو، نو د هغهٔ د پاره د الله تعالیٰ رضا مندي ده، او چه څوک خفه شو، د هغهٔ د پاره د الله تعالیٰ خفګان دے. (ترمذی)

(۱۲) :- رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائی:- په انسان باندے همیشه مصیبت وي، حتیٰ چه هغه هم په دغه حال کښے پریږدي چه هغه په مزکه باندے داسے ګرځي چه د دهٔ په ذمه هیڅ ګناه باقي پاتے نشي. (ترمذی شریف)



د تکلیف او غم علاج

(۱) :- رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم اوفرمائیل: چه کله یو انسان ته پریشانی یاغم اورسی او هغه دا دعا اووائی :

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ عَبْدُكَ ابْنِ عَبْدِكَ اِبْنُ اُمَّتِكَ نَاصِیَتِیْ بِیَدِكَ مَاضٍ فِیَّ حُكْمُكَ عَدْلٌ فِیَّ قَضَاءُكَ اَسْئَلُكَ بِكُلِّ اِسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّیْتَ بِهٖ نَفْسَكَ اَوْ اَنْزَلْتَهٗ فِیْ كِتَابِكَ اَوْ عَلَّمْتَهٗ اَحَدًا مِّنْ خَلْقِكَ اَوِ اسْتَاْثَرْتَ بِهٖ فِیْ عِلْمِ الْغَیْبِ عِنْدَكَ اَنْ تَجْعَلَ الْقُرْاٰنَ رَبِیْعَ قَلْبِیْ وَنُوْرَ بَصَرِیْ وَجَلَاءَ حُزْنِیْ وَذَهَابَ هَمِّیْ ۔ (مسند احمد)

ترجمه :- اے خدایه! ستا بنده یم او ستا د بنده خوئے یم، او ستا د وینزے خوئے یم او تول ستا په قبضه کښے یم، زما په باره کښے ستا حکم نافذ دے، زما په باره کښے ستا حکم انصاف دے سوال کوم ستا نه ستا د هر هغه نوم په واسطه یاند ے چه په هغے سره تا خپل ذات پیوست کړے دے، یا دے په خپل کتاب کښے نازل کړے دے، یا دے هغه په مخلوق کښے چا ته ښودلے دے یا دے په خپل علم غیب کښے ساتلے دے، دا چه ورکړے قرآن زما د زړهٔ د پاره سپرلے، او زما د سترګو د پاره نور او آسانتیا زما د غم او لرے والے زما د فکر.

نو الله تعالیٰ به د هغهٔ فکرونه او غمونه ختم کړی او د دے په بدله کښے به دهٔ له خوشحالی ورکړی.

(۲) :- د مصیبتونو لرے کولو د پاره دا دعا ډیره زیاته مجربه ده:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِکَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحُزْنِ وَالْعَجْزِ وَالْکَسَلِ وَالْبُخْلِ وَالْجُبْنِ وَضَلْعِ الدَّیْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ (بخاری)

ترجمه :- اے الله زهٔ ستا پناه غواړم د اندیښنوته، د غم نه، محتاجئ نه، سستی نه، د بخل نه، د بزدلئ نه او د قرض د بوجه او د خلقو د غلبے نه.

د پریشانئ او بے آرامی علاج

(۱) :- د پریشانئ او بے آرامئ د پاره دا دعا ډیره مفیده او مجربه ده:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْعَظِیْمُ الْحَلِیْمُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَرَبُّ الْاَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْکَرِیْمِ (بخاری)

ترجمه :- نشته دے څوک د عبادت والا سِوا د الله تعالیٰ نه چه عظیم (لوئے) او صبر والا دے، نشته دے څوک معبود ماسِوا د الله تعالیٰ نه چه د لوئے عرش مالک دے، نشته دے څوک معبود سِوا د الله تعالیٰ نه چه د آسمان او مزکے او عرش کریم مالک دے.

(۲) :- دا دعا هم د پریشانئ لرے کولو د پاره مجربه ده:

اَللّٰهُمَّ رَحْمَتَكَ اَرْجُوْا فَلَا تَکِلْنِیْ اِلٰی نَفْسِیْ طَرْفَةَ عَیْنٍ وَّاَصْلِحْ لِیْ شَاْنِیْ کُلَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ ط

ترجمه :- اے الله! ستا د رحمت امید لرم، ما لږ ساعت هم خپل نفس ته مه سپاره او زما ټول معاملات درست کړه، نشته د څوک

د عبادت لائق سِوا د ستا نه . (ابوداوُد)

(۳) :- د هر قسم پریشانئ دفع کولو د پاره انتهائي ډیر مجرب او باعث د اطمینان دے .

لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ ط

ترجمه :- ستا نه سوا څوك معبود نشته ته پاك یې بیشکه زهٔ د ظلم کوونکو د ډلے نه یم . (ترمذی شریف)

(۴) :- د بے آرامی د پاره دا دعا مجربه ده :

اَللّٰهُ اَللّٰهُ رَبِّیْ لَا اُشْرِكُ بِهٖ شَیْئًا (ابوداوُد)

ترجمه :- الله زمارب دے زه د دهٔ سره چالره شریك نهٔ جوړوم .

د مریض خپل علاج پخپله کول

د بدن په هره برخه کښے چه تکلیف وی په هغه ځائے لاس کیږده او بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ درے ځله اولوله او اَعُوْذُ بِاللّٰهِ وَ قُدْرَتِهٖ مِنْ شَرِّ مَا اَجِدُ وَ اُحَاذِرُ . (مسلم)

ترجمه: زهٔ د الله او د هغه د قدرت پناه غواړم د هغه څیز د شر نه کوم چه زهٔ مومم، او چه د کوم اندیښنه کوم .

او وه کرته دا دعا اووایه انشاء الله شفاء به بیاموِمی .

په وخت د بیمارپرسی د مریض علاج

د رسول کریم صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد دے : چه کله یو مسلمان د داسے مریض پوښتنے له لاړشی چه د هغهٔ اجل نهٔ وی راغلے او بیا اووه پیرے په هغهٔ دا دعا اووائی :

أَسْأَلُ اللّٰهَ الْعَظِيْمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَنْ يَّشْفِيَكَ (ترمذی)

ترجمہ:- زۀ سوال کوم د الله تعالیٰ نه چه هغه لوئے دے او د عرش عظیم مالك دے چه هغه دے تاله شفا درکړی.

نو دغه مریض ته صحت (شفا) نصیب کیږی.

په خوب کښې د یرے علاج:

په خوب کښے که ویریږے نو دا دعا وایه! انشآء الله یره به بالکل ختمیږی:

اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّآمَّةِ مِنْ غَضَبِهٖ وَعِقَابِهٖ وَشَرِّ عِبَادِهٖ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِيْنِ وَاَنْ يَّحْضُرُوْنَ (ابوداؤد)

ترجمہ:- پناه غواړم زۀ د الله تعالیٰ په کلمات تامه سره د هغه د غضب او د هغۀ د عذاب نه او د هغۀ د بنده گانو د شر نه، د شیطانانو د چیړ چاړ نه او هغه نه چه کوم شیطانان ما ته حاضریږی.

د تبے علاج:

رسول کریم صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

تبه د جهنم د اور تاؤ نه دے، دا په اوبو یخ کړئ (بخاری)

یعنی د چا چه تبه وی، په هغه باندے اوبه وا چوئ د غه رنګ تبه به ئے کمه شی، دا علاج د هغه تبے دے چه هغه د ډکرمئ د وجے نه راغلے وی.

د مار، لړم وغيره دچيچلو علاج

(۱): سورة فاتحه ووايه او په لاړو باندے تهک وهلی ځائے باندے ولګوه انشاء الله تهيک به شی. (بخاری)
(۲) په اوبو کښے مالګه ملاؤ کړه، او په متاثره شوی ځائے باندے ئے ولګوه او ورسره ورسره سورة کافرون (قُلْ يَآ اَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ) او معوذتين (سورة فلق او ناس) ووايه (طبرانی)

دغصے علاج :

دغصے علاج په دوو طريقو باندے وی :
(۱): - دغصے کولو نه اجتناب :- او دا په هغه صورت کښے کيږی چه سړے دغصے راوستونکو څيزونو نه اجتناب اوکړی او په هغه اسبابو کښے څه اسباب دا دی: تکبر، خود پسندی، لوبے، دبدکار حرص، بے مناسبه ټوقے مسخرے، او دد ے پرشان نور څيزونه. دا علاج دغصے دراتلونه مخکښے په طور د علاج وو
